فضل الله رشتين ۲۰۱۱/۱۰/۱۳

# د ادب معنی او مقصد

ځوک چی خپل نفس په قبضه کښې نه شی ساتلی، خپل اندامونه او لاس او پښې په خپل واک کښې نه شي راوستلی او د عدالت او موازنې تله په لاس کښې نشی ټينګوالی نو هغه کمزوری او ضعيف دی لکه چنګيز ـ هلاکو او داسی نور ـ د چا سره چې د خولې او عمل قوت نه وی ځوک چې د يو پيغمبر او يو فيلسوف په شان يا ديو اديب او شاعر په رنګ د حيات په سختيو نه شی کاميابيدی او د روح په قوت يا د دماغ په زور يا د خولی په سحر يا د وينا په طلسم د خلقو په زړونو حکومت نه شی کولی. يعنی د انسانيت له حقيقی قوت څخه محروم وي نو هغه بيا نورو الاتو او مادي شيانو نه تيښته کوي او د روحانی قوت په ځای په ظاهری شيانو يعني تورې او چړې خپل مقصد لاس ته راوړي. په دی لحاظ زه هغه چاته کمزوری وايم چی په هغه کښی د انسانی روح او ضمير پټ قوتونه کمال ته نه وي رسيدلي ـ شعر او شاعری يا په بله ژبه ادب د انسان د معنوی کمالونو څخه يو لوی او ستر قوت دی هر ځوک چې ددې کمال خاوند ؤ هغه قوی او بريالی دی او که نه ؤ ضعيف او کمزوری دی.

د ادب د کلمی لفظی څيړنی څخه هم ددی خبرو حقيقت په ښه شان ځرګنديږی . عرب د ادب د کلمې اصل هدب بولي چی د تهذيب يعنی سپيڅلتوب اصل او مبداء ده . د ادب وظيفه هم د نفس او روح تهذيب او ښايسته والی دی . داوجه ده چې ادب په نفسي او طبيعي په دوه ډوله ويشل شويدی چی په اول کښی د جذباتو تفسير او په دوهم کښی د طبيعي ننداری تصوير خپل اعلی معيار ته رسيږي او دا دواړه اړخونه د ژوند له ضرورياتو څخه دي.

د پوهانو په مينځ کښی يوه بله خبره هم ډيره کښته پورته کيږی.

هغه دا چی ادب د ادب دپاره دی اوکه ژوند دپاره که ځوک په الفاظو نه ښوييږی او معني ته ځير اوسيي نو دلته نه کوم تناقض او نه د سوال او پوښتنې حاجت شته.

دا جمله چي ادب د ژوند دپاره دی هم غلطه نه ده د اديبانو په مينځ کی يوه لفظی جګړه شته چی ادب د ادب دپاره بيله معنی ورکوي او ادب د ژوند دپاره بيله معنی لري . مګرحقيقت دادی چی ادب ټول د ژوند د پاره دی او ښه ادبي او عشقي مضمون ليکل يا په ښه مهارت سره يوه طبيعی منظره په الفاظو کی رسم کول يا د کوم ابشار او سيند ، د کو مو ځنو د کومو زلفو ستاينه کول د ا ټول د ژوندانه دپاره دی.

ولی چې په دي صورت يو شاعر او اديب غواړي چی ژوند د ژوند کوونکو په نظر کښی ښکلی او ښايسته وښيي او د ژوندانه سره دده مينه او علاقه زياته کړي ، د کائناتو ښايسته کول او د ګل او بلبل ستايل د يو هنرمند اديب کار دی چې د ژوند ډګر د هر چا په نظر کښی د سرور او خوښۍ يوه رنګينه تابلو وګرځوي.

انسان په ژوندانه کښې د پايښت دپاره تفريح او د زړه خوښۍ ته له هر څه زيات ضرورت لری نو په دی لحاظ يو خاص ادبی شعر هم چی د زړه د تفريح سبب کيږي د ژوندانه دپاره دومره ضرور دی ؟ ځومره چې ښه غذا ښه بوي، ښه اواز ، او ښه ننداره ـ د ژوندانه دپاره لازمه ده .

بله مسئله د ادب د قوت او تاثير ده ، په دی کښی زما په خيال ډيری څيړنی ته ضرورت نشته ځکه چې شعر ته حکمت او بيان ته سحر ويل شوی دی او دا په خپله د ادب د قوت يو لوی دليل او برهان دی ادب د عقل موجد او پيداکونکی دی ، يوه ټولنه او جامعه د ادب له قوت نه پرته کار او عمل ته تياريدلی نه شی . ډير ويده لټ او تنبل قومونه د ادب او شعر د خوږو نغمو په زور په ډيره مينه او شوق د کار او عمل به ډګر کښی په زغليدو راغلی دي او هم دغه شی د دوی په کالبوت کښی سا پوکلې ده.

د اروپا د رنسانس دوره د ادب په قوت مينځ ته راغلې ده او ټول عملی وړاندې تګ د ادب په برکت ددوی په برخه شوی دی.

که چيری په فرانس کی ويکتور هوګو مارتين او نورو د ادب په چغو خلک نه وې راوېښ کړي نو د عمل په ډګر کی په ناپليون له کومه پيدا شوی ؤ ؟ د ايتاليا د قوميت او ملت مسسين ميزني او دانتي نوی شاعران دي.

جرمنيانو چی د ګوئټی له اشعارو څخه د عمل او قوت کوم الهام اخستی دی هغه بيا د هټلر او نورو په شکل کی ځرګند شوی دی.

انګريزان د شکسپير په نغمو کی تر اوسه د نړۍ په ټولو ډګرونو کی غورځې او پرځي کوی. د روس دوه سوه ميلونه نفوس د پوشکين او مکسيم ګورکي د سحر ناکو سندرو په اثر په ځومره قوت مخ په وړاندی روان دي.

د هند خاوره د ټاګور نغمو ژوند ی کړه او پاکستان ته د اقبال شعرونو ژوند وباښه .

پښتانه د جنګ په هر ډګرو کښی د خپل خوږ ملی ادب به زور بريالی کيږی او د خوشحال حماسی شعرونه د توري ټوپک نه زيات زور لری که د شاعرانو او اديبانو له نومونو څخه تير شو نو د نړی ټول سياسی مشران او د عمل د ډګر پهلوانان هم درست اديبان او د قلم خاوندان دي او هر يو لومړی د ادب له ساحری څخه کار اخيستی دی.


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

د تبلیغ او بیان توره یې په کار راوستی ده نو پس له هغې یې ډګر کې کامیابی ګټلی ده .
لینن او ستالین، ابراهیم لنکن او نور د نړۍ مشران ټول لوی لوی ادیبان وه. هټلر د جنګ من په لیکو ځان ته دعمل لار صافه کړه.
نهرو ، ګاندي او چرچل د ادب او بیان په قوت په ژوندانه کښی په لویو لویو چارو کامیاب شوي دي، نو ځکه ویلی شو چې ادب او عمل دواړه لکه سا او کالبوت دي. که د عمل په کالبوت کی د ادب څه نه وي یا د ادب سره عمل ملګری نه وي نو په دواړو صورتونو کښی انسان په ژوندانه کښی د کامیابۍ لوړې پوړۍ ته نه شي رسیدلی او مونږ باید له بې ادبه عمل او بې عمله ادب دواړو څخه ځان وساتو.

اراوابناد علامه پوهاند رشتین


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ